مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد غفوري ۲۰۲۶/۱۱/۱۱

سیاسي سیستم – سیاسي فعالان او ډلې

(دریمه‌برخه)

۳.۳ . سیاسي فعالان او ډلې

سیاسي فعالان هغه کسان، ډلې او سازمانونه دي چې په مستقیم یا غیرمستقیم ډول د یوې ټولنې پر سیاسي ژوند، د واک پر کارونې، د پرېکړو پر نیولو او د عامه پالیسیو پر جوړولو او پلي کولو اغېز کوي. په ساده ژبه، سیاسي فعالان یوازې هغه کسان نه دي چې په حکومت یا پارلمان کې رسمي دنده لري، بلکې هر هغه شخص، ډله یا سازمان هم په کې شاملېږي چې د سیاسي موضوعاتو په اړه نظر څرګندوي، د پرېکړو د بدلون هڅه کوي، د خلکو غوښتنې مطرح کوي یا د حکومت پر فعالیتونو اغېز کوي.
ځینې سیاسي فعالان خپل اغېز په مستقیم ډول څرګندوي؛ لکه ولسمشر، وزیران او د پارلمان غړي چې د خپلو رسمي صلاحیتونو له مخې پرېکړې نیسي. ځینې نور بیا رسمي دولتي واک نه لري، خو د خلکو د نظرونو په راټولولو، د ټولنیزو غوښتنو په مطرح کولو، د عامه افکارو په جوړولو او پر دولتي ادارو د فشار په راوړلو سره پر سیاسي بهیر اغېز کوي.
په دې ډله کې ولسمشر، وزیران، د پارلمان غړي، سیاسي ګوندونه، د مدني ټولنو استازي، د ټولنیزو خوځښتونو فعالان، د ګټو ډلې، رسنۍ او نور سیاسي شخصیتونه شامل دي. د دغو فعالانو رول او د اغېز اندازه د هر هېواد د سیاسي نظام، قانوني شرایطو او د سیاسي ګډون د امکاناتو له مخې توپیر لري.

۳.۳.۱ .دولتي مسئولان او سیاسي شخصیتونه

ولسمشر، لومړی وزیر، وزیران، د پارلمان غړي او نور لوړپوړي دولتي مسئولان د سیاسي سیستم مهم فعالان دي. دوی د خپلو رسمي دندو او صلاحیتونو له مخې د دولت په اداره کولو، د سیاسي پرېکړو په نیولو، د قوانینو په جوړولو او د عامه پالیسیو په ټاکلو کې ونډه لري.
د بېلګې په توګه، د پوهنې وزیر د ښوونې او روزنې د چارو د تنظیم مسئولیت لري او د دې برخې د ستونزو د حل له پاره وړاندیزونه او پلانونه جوړوي. د پارلمان غړي بیا کولای شي د ښوونې او روزنې په اړه بحثونه وکړي، اړوند قوانین تصویب کړي او له حکومت څخه وغواړي چې د ښوونځیو د نشتوالي یا د ښوونکو د کمښت ستونزه حل کړي.
د دغو مسئولانو پرېکړې د ټولنې پر بېلابېلو برخو اغېز کوي. له همدې امله، د هغوی د صلاحیتونو حدود، د کړنو څارنه او حساب ورکونه ځانګړی اهمیت لري.

۳.۳.۲ .سیاسي ګوندونه

سیاسي ګوندونه هغه منظم سیاسي سازمانونه دي چې د ګډو سیاسي موخو، نظریاتو او پروګرامونو پر بنسټ رامنځته کېږي. د دوی اساسي موخه دا وي چې د خلکو ملاتړ ترلاسه کړي، په سیاسي پرېکړو کې ونډه واخلي او په ډېرو مواردو کې د ټاکنو له لارې دولتي واک ترلاسه کړي.
سیاسي ګوندونه د ټولنې د بېلابېلو ډلو غوښتنې او نظریات راټولوي او هغه د سیاسي پروګرامونو او وړاندیزونو په بڼه وړاندې کوي. د بېلګې په توګه، یو ګوند ښایي د اقتصادي ودې، بل د ټولنیز عدالت، بل د ملي یووالي او بل د چاپېریال ساتنې موضوعاتو ته لومړیتوب ورکړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د سیاسي ګوندونو د فعالیت یوه مهمه برخه د ټاکنو له لارې د خلکو د رایو ترلاسه کول دي. دوی نوماندان معرفي کوي، خپل پروګرامونه له خلکو سره شریکوي او هڅه کوي چې د رایو په ترلاسه کولو سره په حکومت یا پارلمان کې ونډه واخلي.
خو د سیاسي ګوندونو رول یوازې د واک ترلاسه کول نه دي. هغه ګوندونه چې په حکومت کې برخه نه لري، هم کولای شي د حکومت پر کړنو نیوکې وکړي، د پالیسیو بدیلې لارې وړاندې کړي او د خلکو غوښتنې مطرح کړي. په دې توګه، سیاسي ګوندونه د سیاسي سیالیو، د نظرونو د تنوع او د خلکو د سیاسي استازیتوب په بهیر کې مهم رول لري.

۳.۳.۳ .مدني ټولنې او ټولنیز خوځښتونه

مدني ټولنې له هغو خپلواکو سازمانونو، اتحادیو، ټولنو او بنسټونو څخه عبارت دي چې د خلکو د ګډو ګټو، حقونو او ټولنیزو غوښتنو د ملاتړ له پاره فعالیت کوي. دا سازمانونه عموماً د حکومت برخه نه وي او د خپلو موخو د ترلاسه کولو له پاره د خلکو د رضاکارانه ګډون او همکارۍ پر بنسټ کار کوي.
د ښکلې په توګه، د بشري حقونو سازمانونه، د ښځو د حقونو ټولنې، د ښوونکو اتحادیې، د کارګرانو سازمانونه، د ځوانانو ټولنې او د چاپېریال ساتنې بنسټونه د مدني ټولنې بېلابېلې برخې دي.
دغه سازمانونه د ټولنې د یوې ځانګړې برخې ستونزې او غوښتنې په منظم ډول مطرح کوي. د ښکلې په توګه، د ښځو د حقونو یوه ټولنه کولای شي د ښځو د زدهکړې، کار او سیاسي ګډون په اړه ستونزې وڅېړي، د خلکو نظرونه راټول کړي او له حکومت څخه د اړینو اقداماتو غوښتنه وکړي.
ټولنیز خوځښتونه بیا هغه ګډ او منظم فعالیتونه دي چې د یوه مشخص ټولنیز یا سیاسي هدف د ترلاسه کولو له پاره رامنځته کېږي. د ښکلې په توګه، د چاپېریال ساتنې، د زدهکړې د حق، د کارګرانو د حقونو یا د ټولنیز عدالت له پاره پراخ ولسي خوځښتونه رامنځته کېدای شي.
ټولنیز خوځښتونه د مدني ټولنې د فعالیتونو یوه مهمه برخه ګڼل کېږي؛ خو د مدني ټولنې له رسمي سازمانونو څخه پراخ کېدای شي او د ښکلابېلو ډلو او خلکو ګډون پکې شاملېدای شي. مدني ټولنې او ټولنیز خوځښتونه دواړه د خلکو د ستونزو او غوښتنو په څرګندولو، د عامه افکارو په جوړولو، د حکومت د پالیسیو په ارزونه او د دولتي فعالیتونو په څارنه کې مهم رول لري. همدارنګه، دوی کولای شي د خلکو او دولتي ادارو ترمنځ د اړیکو او خبرو اترو وسیله شي او د ټولنیز بدلون په رامنځته کولو کې ونډه واخلي.

۳.۳.۴ .د ګټو ډلې

د ګټو ډلې هغه منظمې ډلې، ټولنې یا سازمانونه دي چې د خپلو غړو یا د یوې ځانګړې ټولنیزې، اقتصادي او مسلکي برخې د ګډو ګټو او غوښتنو د ساتنې او پرمختګ له پاره فعالیت کوي. د دوی موخه عموماً د دولتي واک ترلاسه کول او د حکومت جوړول نه وي، بلکې هڅه کوي چې د حکومت پر پرېکړو او سیاسي پالیسیو اغېز وکړي او د خپلو اړوندو ډلو غوښتنې د دولتي پرېکړو په بهیر کې په پام کې ونیول شي.
د ښکلې په توګه، د سوداګرو ټولنې د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې د مناسبو قوانینو او اسانتیاوو غوښتنه کوي. د کارګرانو اتحادیې د کارګرانو د معاشونو، کاري شرایطو او حقونو د ښه کېدو لپاره هڅې کوي. د بزګرانو ټولنې د کرنیزو ځمکو، اوبو، تخمونو، کرنیزو محصولاتو او دولتي مرستو په اړه خپلې غوښتنې مطرح کوي. همدارنګه، د ډاکټرانو، ښوونکو، صنعتکارانو او نورو مسلکي ډلو اتحادیې هم د خپلو مسلکي او اقتصادي ګټو د ساتنې او پرمختګ له پاره فعالیت کوي.
د ګټو ډلې خپلې غوښتنې د دولتي مسئولانو سره د خبرو اترو، د رسمي وړاندیزونو د وړاندې کولو، د غونډو او کنفرانسونو د جوړولو، په عامه بحثونو کې د ګډون، د رسنیو له لارې د خپلو نظرونو د خپرولو او کله ناکله د سولهییزو اعتراضونو له لارې مطرح کوي. د ښکلې په توګه، که د کارګرانو یوه اتحادیه په دې باور وي چې د کارګرانو اوسني معاشونه د ژوند له لګښتونو سره سمون نه لري، کولای شي له حکومت څخه د لږ تر لږه معاش د لوړولو غوښتنه وکړي.
د ګټو ډلو او سیاسي ګوندونو ترمنځ مهم توپیر دا دی چې سیاسي ګوندونه عموماً د دولتي واک د ترلاسه کولو او د حکومت د جوړولو هڅه کوي، خو د ګټو ډلې تر ډېره غواړي چې د خپلو غړو یا اړوندې برخې غوښتنې د سیاسي پرېکړو او دولتي پالیسیو په جوړولو کې منعکسې شي. سره له دې توپیر، د دواړو فعالیتونه پر سیاسي بهیر اغېز لري.
البته، د ګټو ډلو د اغېز کچه تل یو شان نه وي. ځینې ډلې د مالي امکاناتو، پراخو اړیکو او سیاسي نفوذ له امله پر دولتي پرېکړو ډېر اغېز کولای شي، په داسې حال کې چې د کمزورو او بېوسه ټولنیزو ډلو غوښتنې ښایي لږې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

واورېدل شي. له همدې امله، د يوه عادلانه او متوازن سياسي نظام له پاره اړينه ده چې د بېلابېلو ټولنيزو، اقتصادي او مسلکي ډلو د نظرونو او غوښتنو د مطرح کولو او اورېدل کېدو مناسب امکانات موجود وي.
د يادونې وړ ده چې د ګټو ډلې عموماً د مدني ټولنې په پراخ چوکاټ کې شاملېږي، خو د دواړو مفهومونه يو شان نه دي. مدني ټولنې ښايي د بشري حقونو، چاپېريال ساتنې، عامه پوهاوي او ټولنيزو خدمتونو په څېر پراخو موخو له پاره فعاليت وکړي، په داسي حال کې چې د ګټو ډلې تر ډېره د يوې ځانګړې ټولنيزې، اقتصادي يا مسلکي برخې د ګټو او غوښتنو استازيتوب کوي. البته، د يوې ډلې خپلواکي او له دولت سره د هغې اړيکې هم په دې کې مهمې دي چې آيا د مدني ټولنې د خپلواک سازمان په توګه پېژندل کېدای شي که نه.

۳.۳.۵ .رسنۍ (مطبوعات)

رسنۍ د سياسي سيستم له مهمو فعالانو څخه دي، ځکه چې د ټولنې او دولتي بنسټونو ترمنځ د معلوماتو د لېږدولو، د عامه موضوعاتو د مطرح کولو او د سياسي بحثونو د پراخولو وسيله ده.
په رسنيو کې راډيو، ټلويزيون، ورځپاڼې، مجلې، خبري ويبپاڼې او ټولنيزې شبکې شاملې دي. د رسنيو له لارې خلک د حکومت له پرېکړو، قوانينو، سياسي بدلونونو او د هېواد له مهمو موضوعاتو څخه خبرېږي.
رسنۍ يوازې معلومات نه خپروي، بلکې د مهمو سياسي او ټولنيزو موضوعاتو په اړه بحثونه هم رامنځته کوي. د بېلګې په توګه، که په يوه سيمه کې د ښوونځيو د نشتوالي ستونزه موجوده وي، رسنۍ کولای شي د دې ستونزې په اړه راپورونه خپاره کړي، د سيمې د اوسېدونکو نظرونه واوري او د مسئولانو نظرونه هم له خلکو سره شريک کړي. په دې توګه، يوه سيمهييزه ستونزه په يوه پراخه عامه موضوع بدلېدای شي او دولتي اداري هڅول کېدای شي چې د حل له پاره يې اقدام وکړي.
رسنۍ د حکومت د فعاليتونو په څارنه کې هم مهم رول لري. خبريالان او څېړنيزې رسنۍ کولای شي د فساد، د عامه بوديجې د ناسم مصرف، د دولتي ادارو د کمزورۍ او د خلکو د حقونو د سرغړونو په اړه څېړنې وکړي او معلومات خپاره کړي.
خو د رسنيو د دې رول د ترسره کولو له پاره د بيان ازادي، معلوماتو ته لاسرسی، مسلکي ژورنالېزم او د رسنيو خپلواکي مهم شرايط دي. همدارنګه، رسنۍ مسئوليت لري چې معلومات په دقت وڅېړي، کره خبرونه خپاره کړي او د ناسم او بېاساسه معلوماتو له خپرولو ډډه وکړي.
په دې توګه، رسنۍ د خلکو د خبرتيا، د عامه افکارو د جوړولو، د سياسي بحثونو د پراختيا او د واک د څارنې يوه مهمه وسيله ده.

د سياسي فعالانو او ډلو اهميت

سياسي فعالان او ډلې د سياسي سيستم هغه برخه ده چې د خلکو غوښتنې، ګټې او نظريات د سياسي بهير له نورو برخو سره نښلوي. دولتي مسئولان د واک له لارې پرېکړې کوي، سياسي ګوندونه بېلابېل پروګرامونه او سياسي لېدلوري وړاندې کوي، مدني ټولنې او ټولنيز خوځښتونه د خلکو ستونزې مطرح کوي، د ګټو ډلې د خپلو غړو غوښتنې څرګندوي او رسنۍ د معلوماتو په خپرولو او د فعاليتونو په څارنه کې ونډه اخلي.
د دغو فعالانو د شتون او فعاليت يوه مهمه پايله دا ده چې سياسي پرېکړې يوازې د دولتي اداروپه دننه کې محدودې نه پاتې کېږي، بلکې د ټولنې بېلابېل غړونه او غوښتنې هم د پرېکړو په بهير کې د ګډون فرصت ترلاسه کوي.
البته، د سياسي فعالانو شتون په يوازې ځان د اغېزمن سياسي ګډون ضمانت نه کوي. د هغوی د فعاليت ازادي، د نظر څرګندولو حق، د سياسي سيالیو عادلانه شرايط او د خلکو د ګډون امکانات هم بايد موجود وي. هر څومره چې د بېلابېلو سياسي او ټولنيزو ډلو د فعاليت او ګډون زمينه برابره وي، هماغومره د ټولنې د نظرونو او غوښتنو د منعکس کېدو امکان زياتېږي.
ددې بحث په راتلونکي ليکنه (څلورمه برخه) کې به د سياسي سيستم د (سرچينو او اداري وړتياوو) په اړه معلومات وړاندې شي.

نورمحمد غفوري
08.11.2026

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ